د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۱۹/ ذی الحجه/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۵/ جوزا/۱۴۰۵هـ، ش**

# د اسلام له نظره د اقتصادي مشکلاتو د حل لارې چارې

**بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ**

الحمد لله، الحمد لله هادي من استَهداه، ومُعطِي عبدَه فوقَ ما يتمنَّاه، أحمده سبحانه وأشكرُه على جزيلِ ما أولاه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، ولا معبود بحقٍّ سِواه، وأشهد أن سيدَنا ونبيَّنا محمدًا عبدُ الله ورسولُه قرَّبَه وأدناه، صلّى الله وسلَّم وبارَك عليه وعلى آله الطيبين ، وأصحابه المُكرَّمين والتابعين ومن تبِعَهم بإحسانٍ وسلَّم تسليمًا كثيرًا لا حدَّ لمُنتهاه.

**درنو مسلمانانو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

لکه څرنگه چې انسانان د شکل او قد او قامت له پلوه یو شان نه دي ، دارنگه د اقتصادي حالت له پلوه هم یو شان نه دي .ځینې خلک شتمن وي او ځینې بیا په اقتصادي مشکلاتو کې راگیر وي. په دواړو حالتونو کې مسلمان په ازمېښت او ابتلاء کې وي. شتمن دالله تعالی له لوري په مال او ثروت باندې ازمويل کيږي چې آيا زما بنده زما په ثروت او مالدارۍ باندې شکر وباسي او کـه نـه يې وباسي.آيا زما بنده دمال او دولت نسـبت ماته(الله جل جلاله ته کوي او که مال او دولت خپل کمال گڼي؟آيا زما بنده زما د مال او دولت حق اداء کوي او که نه يې اداء کوي؟

همدا راز په اقتصادي مشکلاتو کې را گير بندگان الله جل جلاله په دې ازمويي چې آيا زما بنده په اقتصادي مشکلاتو باندې صبر کوي او که بې صبري کوي؟ آيا په اقتصادي مشکلاتو کې راگير بنده ماته توجه کوي او که نه يې کوي ؟ آيا په اقتصادي مشکلاتو کې راگير بنده زما د رحمتونو او نعمتونو اميد لري او که زما د رحمتونو او نعمتونو څخه نا اميده دی او د نااميدۍ په وجه زما د رحمتونو او نعمتونو هيڅ لټه نه کوي او د کار ، کسب او زحمت گاللو څخه لاسونه راټولوي؟

له بل پلوه اقتصادي مشکلات په ټولنه کې مختلف قسم آفتونه او بې نظمۍ او بې قرارۍ رامنځ ته کوي.

د اقتصادي مشکلاتو په وجه په ټولنه کې غلا، چور چپاول، غصب، سود، اختطاف، انسان وژنه، د حرام شیانو او د غیر مجاز شیانو خرڅلاو او نورو ډول ډول مشکلات رامنځ ته کیږي او د ټولنې څخه امنیت ، سوکالي او خوشحالي پورته کیږي.

بناءً د اسلام مقدس دین د اقتصادي مشکلاتو د لمنځه وړلو اومخنیوي لپاره مختلفې لارې چارې مونږ ته راښوولي دي چې دغه لارې چارې ځینې یې د ټولنې د فرد مسئولیت ګرځولی دی او ځینې یې د اسلامي نظام مسئولیت ګرځولې دی.

د اقتصادي مشکلاتو د حل لارې چارې ځینې په لاندې ډول دي:

**۱-کار او کسب کول** : د اقتصادي مشکلاتو د حل لپاره اسلام مسلمانان کار، کسب ، زراعت ، صنعت ، تجارت او د مال ګټلو ته هڅولي دي او د اقتصادي مشکلاتو د مخنیوی لپاره یې کسب او کار کول د حل لارې په توګه معرفي کړي دي.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ).الملک:(۱۵)

ترجمه:دغه الله همغه ذات دی چې ګرځولې یې ده تاسې ته ځمکه پسته تابعداره نو ځئ ګرځئ تاسې په اوږو اطرافو لارو د دې ځمکې کې او خورئ تاسې له حلال رزق د دغه الله او خاص دغه الله ته بیا ژوندي راپورته کېدل ستاسو دي پس له مرګه .

په پورته ذکر شوي مبارک کې الله تعالی مونږ ته امر کړی دی ترڅو د ځمکې په لوړو ژورو، غرونو او اطرافو کې وګرځو او په ځمکه کې خپل رزق او روزي ولټوو لکه چې په حدیث شریف کې راځي نبي علیه السلام فرمایلي دي:«اطْلُبُوا الرِّزْقَ مِنْ خَبَايَا الْأَرْضِ» مسند أبي يعلى الموصلي (۷/ ۳۴۷)ژباړه: ولټوئ رزق د ځمکې په د ننه او پټو زیرمو کې.

امام بیهقي رحمه الله ددې حدیث په شرحه کې وایي:ددې حدیث څخه زراعت او د ځمکې کرل مراد دي. شعب الإيمان (۲/ ٤۳۹)

په همدې اساس هغو کسانو لره په کار دي چې د اقتصادي مشکلاتو سره مخ دي، چې دهقاني وکړي، چوپاني وکړي او په غرونو کې رمې وپیایي، د ځمکې په مختلفو ځایونو کې تجارت وکړي ، کار وکړي او هغه رزق چې الله تعالی دده لپاره مقرر کړی دی ترلاسه یې کړي او خپل اقتصادي مشکلات حل کړي .

د همدې امله الله تعالی فرمایلي دي چې ټول مال مه خیرات کوه؛ ترڅو د اقتصادي مشکلاتو سره مخ نشئ او خلکو ته محتاج نشئ. دنیا ته شاه مه اړوه ځکه دنیا ته په کُلِّي ډول شا اړول یو نوعه رهبانیت دی او الله تعالی فرمایلي دي چې له دنیا څخه خپله برخه مه هیره وه.(وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ).القصص:(۷۷)

ترجمه: او وغواړه په هغه (دولت) چې درکړی دی تاته الله کور د آخرت او مه هېروه برخه خپله له (ماله د ) دنیا او احسان کوه (له بندګانو د الله سره په ورکړه د مال)لکه چې احسان کړی دی الله له تاسره چې داسې ډېر دولت یې درکړی دی.

په یو بل مبارک آیت کې راځي: الله تعالی فرمایلي دي:( وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ قَلِيلًا مَا تَشْكُرُونَ). الأعراف:( ۱۰)

ترجمه: او پیدا مقرر کړي دي مونږ تاسې ته په دغې ځمکې کې هر قسم اسباب د ژوندانه لږ شانې شکر وباسئ تاسې.

مفسرين د (مَعَايِشَ ) كلمې په معنا کې ليکلي دي:(ما تعيشون به من الرزق والمال والتجارة) الوجيز للواحدي (ص: ٣٨٧)
(مونږ ګرځولی دی ستاسو لپاره په ځمکه کې ) هغه څه چې تاسې ور باندې ژوند تيروی د رزق نه او د مال نه او دتجارت نه.
په يو بل مبارک آيت کې راځي: (فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ).الجمعة: (١٠)

ترجمه: نو هر کله چې اداء کړی شي لمونځ (د جمعې) پس خواره شئ تاسې په ځمکه کې (خپلو حوائجو ته که يې لرئ) او لټوئ تاسې له فضله د الله او ياودئ تاسې الله( په يادولو) ډېرو سره ښاييږي چې ومومئ تاسې ښيګڼې خلاصی مراد.

امام بغوي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکي: (أَيْ: إِذَا فُرِغَ مِنَ الصَّلَاةِ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ لِلتِّجَارَةِ وَالتَّصَرُّفِ فِي حَوَائِجِكُمْ، وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ، يَعْنِي: الرِّزْقَ). تفسير البغوي (٨ /١٢٣)

ژباړه: يعنې کله چې لمونځ خلاص شي نو خواره شئ په ځمکه کې د تجارت لپاره او په خپلو حاجتونو کې دتصرف لپاره او ولټوئ د الله تعالی فضل يعنې رزق. په نبوي احاديثو کې رسول الله صلى الله عليه وسلم مسلمانان تل کار او کسب ته هڅولي دي او له ګدايګری او بې کاری او تنبلی څخه يې منع کړي دي.

په حديث شريف کې راځي: عَنْ الْمِقْدَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ :«مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَام كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ» . صحيح البخاري (٣/ ٥٧)

ژباړه: د حضرت مقدام رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه دی خوړلی هيڅا خوراک غوره له دينه چې وخوري (انسان)د خپل لاس د کارڅخه(ګټلی خوراک) او بيشکه نبي داود عليه السلام ؤ چې خوراک به يې کولو د خپل لاس د کار څخه.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ العَوَّامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَأَنْ يَأْخُذَ أَحَدُكُمْ حَبْلَهُ، فَيَأْتِيَ بِحُزْمَةِ الحَطَبِ عَلَى ظَهْرِهِ، فَيَبِيعَهَا، فَيَكُفَّ اللَّهُ بِهَا وَجْهَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ النَّاسَ أَعْطَوْهُ أَوْ مَنَعُوهُ» صحيح البخاري (٢/ ١٢٣)

ژباړه: د حضرت زبير بن عوام رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: داچې واخلي يو له ستاسو څخه خپل پړی او راوړي ګيډی د لرګيو په خپله شا باندې او بيا هغه خرڅ کړي او وساتي وربانديې خپل مخ(له سوال څخه) دا ورته بهتره ده ددينه چې له خلکو څخه سوال وکړي ، يا ورته څه ورکړي او يا ورڅخه ورکړه منع کړي.

کار او کسب کول لوی فضيلت لري ، کسب او کار د توکل خلاف عمل نه دی ، په حديث شريف کې راځي: عن أَنَس بْن مَالِك يَقُولُ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَعْقِلُهَا وَأَتَوَكَّلُ، أَوْ أُطْلِقُهَا وَأَتَوَكَّلُ؟ قَالَ: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ» سنن الترمذي ت شاكر (٤/ ٦٦٨)

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې يو سړي وويل ای د الله رسوله! زه خپل څاروی وتړم او بيا (په الله ) توکل وکړم او که لومړی څاروی آزاد کړم او بيا(په الله تعالی توکل) وکړم ؟ نبي عليه السلام ورته وفرمايل: وه يې تړه او بيا (په الله تعالی) توکل وکړه. يعنې د اسبابو استعمال د توکل مخالف کار نه دی، بلکې توکل د زړه عمل دی او کار او کسب د لاس او پښو عمل دی.

بلکې فقهاء کرام وايې چې کار او کسب څلور تکليفي احکام لري، لکه فرض، مستحب،مباح او مکروه.

امام موصلي رحمه الله په المختار للفتاوی کې ليکلي دي: دومره اندازه کسب او کار کول فرض دی، چې د خپل ځان او خپلو اولادونو ضرورتونه ورباندې پوره شي او قرضونه ور باندې اداء کړل شي. همدا راز دومره اندازه کسب او کار کول مستحب دی، چې په مټ يې د فقير او نږدې خپلوانو سره مرسته او ښيګڼه وکړل شي. او هغه اندازه کسب او کار کول مباح دی، چې ځان ورباندې ښايسته کړي او د نعمت څخه يې مزه واخلي او د فخر ، تکبر او تکاثرُ لپاره کسب او کار کول مکروه دي. الاختيار لتعليل المختار (٤/ ١٨٤)

**٢-د صدقاتو ورکول، جايدادونه او باغونه وقف کول او د کونډو او يتيمانو پالنه:**

د اقتصادي مشکلاتو د حل د لارو او چارو څخه د الله تعالی په لاره کې بې وزلو او محتاجانو ته خيراتونه او صدقات ورکول ، د باغونو او املاکو وقف کول دي ترڅو محتاج او بې وزله خلک ورڅخه ګټه واخلي او بل د کونډو او يتيمانو کفالت کول دي.
الله جل جل جلاله فرمايلي دي:(فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَاسْمَعُوا وَأَطِيعُوا وَأَنْفِقُوا خَيْرًا لِأَنْفُسِكُمْ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ).التغابن:(١٦)

ترجمه:نو وويرېږئ تاسې له الله څومره چې توانيږئ تاسې او واورئ (خبرې د الله په سماع د قبول سره) او اطاعت کوئ (د احکام الله) او نفقه کوئ لګوئ ښه شيان لپاره (د نفعې) د ځانونو خپلو يا دا غوره ده ستاسو لپاره. او هغه چې وساتلی شي له حرص بخيلی د نفس خپل څخه نو دا کسان همدوی دي برياليان په مراد رسېدلي (بچ شوي له عذابه په دواړه دارينو کې).
په يو مبارک آيت کې الله تعالی شتمنو خلکو ته فرمايلي دي چې د الله تعالی د رضا لپاره خپل مالونه مسکينانو، فقيرانو، بې وزلو، هغه خلکو ته ورکړئ چې کار او کسب نلري او يا يې مال ، دولت او ځمکې او باغونه د لاسه ورکړي وي او هرڅه چې تاسې د الله تعالی د رضا لپاره صدقه کوی ، هغه تاوان نه دی بلکې هغه ګټه ده. الله جل جلاله فرمايلي دي:( وَمَا أَنْفَقْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَهُوَ يُخْلِفُهُ وَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ).سبأ:( ٣٩ ).
ترجمه: او هر هغه څه چې لګوئ يې تاسې په لار د الله کې له کوم شي څخه (ډېر وي که لږ) پس هغه (الله) عوض درکوي د هغې او همدغه (الله) خير غوره د روزی ورکوونکيو دی.

په يو بل مبارک آيت کې الله جل جلاله فرمايلي دي ، چې کوم شی تاسې د الله تعالی د رضا لپاره بيوزلو او په اقتصادي مشکلاتو کې راګيرو خلکو ته ورکوی ، په حقيقت کې هغه مال د آخرت لپاره توښه او ذخيره ده. الله جل جلاله فرمايلي دي: ( وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللَّهِ هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا ).المزمل:(٢٠) ترجمه:او هر هغه چې وړاندې کوئ يې ليږئ يې تاسې لپاره د ځانونو خپلو له څه خير نېکۍ څخه نو بيا به مومئ تاسې هغه (نېکۍ) په نزد د الله دا (پخوا لېږل د حسناتو) خير ډېره غوره ده او ډېره لويه ده له پلوه داجر ثواب.
په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يَسْتَتِرَ مِنَ النَّارِ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، فَلْيَفْعَلْ».صحيح مسلم (٢/ ٧٠٣)

ژباړه: د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې ما درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واوريدل چې داسې يې وفرمايل: څوک چې کولای شي ستاسې څخه چې ځان وساتي له اور(د جهنم) څخه اګر که د خرما دانې په نيمه برخه هم وي ، نو دا کار دې وکړئ.

په ټولنه کې اکثره اقتصادي مشکلات د کونډو او یتیمانو ځخه را چاپیره وي ، نو ځکه د اسلام مقدس دین د کونډو او یتیمانو په هکله شتمنو خلکو ته خصوصي سپارښتنه کړی ده او رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي:«وَأَنَا وَكَافِلُ اليَتِيمِ فِي الجَنَّةِ هَكَذَا» وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى، وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا».صحیح البخاري (۷/ ۵۳) ژباړه: زه او د یتیم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې (یوځای ) یو او اشاره یې وکړه په سبابه او منځنی ګوتو سره ګوته او لږه جدایې راوسته ددواړ ګوتو ترمنځ.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ الْقَائِمِ اللَّيْلَ الصَّائِمِ النَّهَارَ ) . مُتَّفَقٌ عَلَيهِ .

ژباړه: د ابو هریره رضي الله عنه ځخه روایت دی، هغه وایې چې نبي علیه السلام وفرمایل: کوښښ کوونکی د کونډو په حق کې (کوښښ کوونکی د کونډو د خوراک او ضرورتونو د پوره کولو په لار کې) او کوښښ کوونکی د مسکینانو په حق کې په شان دالله تعالی په لاره کې د مجاهد دی او یا دشپې د تهجد کوونکي او د ورځې د روژه نیوونکي په شان دی.

**۳-شتمن او غنیان اشخاص دیته اړ ایستل چې د خپلو مالونو زکات مستحقینو ته ورکړي.**

الله جل جلاله د اقتصادي مشکلاتو د حل لپاره د شتمنو او اغنیاوو په مالونو کې زکات ددې لپاره فرض کړی دی چې شتمن دغه د زکات مال فقیرانو، مسکینانو ، قرضدارانو ته ورکړي تر څو د زکات د مستحقینو اقتصادي مشکلات حل شي.

او که چیرې اسلامي حکومت ووینې چې شتمن خلک د خپلو مالونو ځخه زکات نه وباسي، نو بیا د اسلامي نظام مسئولیت دی چې شتمن اړ باسي چې د خپلو مالونو زکات اداء کړي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: ( إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ وَالْعَامِلِينَ عَلَيْهَا وَالْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ وَفِي الرِّقَابِ وَالْغَارِمِينَ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ وَابْنِ السَّبِيلِ فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ).التوبة:(۶۰)

ترجمه: بېشکه همدا خبره ده چې صدقې (زکات صرفیږي) لپاره د فقیرانو او مسکینانو او عاملانو (مقررو) پر هغه (تحصیل د صدقې) او هغو ته چې الفت (آشنایي) اچولی شي په زړونو د دوی کې (له اسلام سره) او صرفیږي په (خلاصولود ) غاړو (د نادارو مکاتبانو) کې او پور وړو تاوان موندونوکو او صرفیږي په لاره د الله کې او صرفیږي لپاره د مسافرانو (چې مال ورسره نه وي) (مقرر او لازم کړی شوې ده دغه) فریضه (زکات) له جانبه د الله دغو مصارفو لره او الله په هر څه ښه پوه او دحکمت خاوند دی.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی فرمایلي دي: ( وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَعْلُومٌ . لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ ) المعارج:(۲۴-۵۲).

ژباړه: او هغه کسان ( هم هلوع نه دي)چې په اموالو د هغوی کې حق برخه معلومه وي (له زکات او صدقات ) لپاره د غوښتونکیو (فقیرانو) او محروم (فقیرانو چې سوال نه کوي).

د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ځخه روایت دی هغه وایې کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذبن جبل رضي الله عنه یمن ته لیږلو، نو داسې یې ورته وفرمایل:«إِنَّكَ سَتَأْتِي قَوْمًا أَهْلَ كِتَابٍ فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ».صحیح البخاري ت (۳/ ۵۵۷)

ژباړه: بیشکه ته داسې قوم ته ورتلونکی یی چې هغه اهل کتاب دي ، پس کله چې ورته ورغلې ، نو هغوی دعوت کړه دیته چې داسې شهادت ووایې (أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ) که چیرې هغوی ستا په دې کې اطاعت وکړي او ستا خبره ومني ، نو بیا هغوی خبر کړه چې بیشکه الله تعالی فرض کړی دی په هغوی باندې پنځه وخته لمونځ په یوه شپه او یوه ورځ کې ، که چیرې په دې کې هم ستا اطاعت وکړي ، نو بیا هغوی خبر کړه چې بیشکه الله تعالی په هغوی فرض کړی دی زکات دمالونو، چې اخیستل کیږي به ددوی له شتمنو او اغنیاو څخه او بیا به واپس ورکول کیږي د هغوی فقیرانو ته.

په اسلافو کې داسې اسلامي امراء موجود وو چې هغوی به د زکات مال په مستحقینو او په هغه چا توزیع کولو چې اقتصادي مشکلاتو کې به راګیر شوی ؤ. په یو روایت کې راځي چې هارون الرشید رحمه الله به د کوچني اختر په ورځ ځینو محتاجانو ته دومره نفقه ورکوله، چې د هغوی د یو کال لپاره به یې کفایت کولو. حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله به په خپل لاس په مسجدونو کې سره زر او سپین توزیع کول.

د عمر بن عبدالعزیز رحمه الله یو عمر بن سعید وویل: قسم په هغه الله چې نشته لائق د عبادت مګر یواځې هغه الله دی، چې د دمشق څخه تر افریقا پورې وګرځیدم، خو ما هیڅ فقیر پیدا نکړ چې زه ورته زکات ورکړم. خطب ومحاضرات للشيخ عائض القرني (٢٠٠/ ٩)

الحمد لله زمونږ په هیواد کې دومره د قوي اقتصاد خاوندان شته چې که دوی هریو کس زکات په خپله منطقه کې مسکینانو ، بېوزلو ته ورکړي ، نو زه کلک یقین لرم چې زمونږ په هیواد کې به اقتصادي مشکلات صفر شي .

**۴-د محتاج سره مرسته کول او دبیوزلو ترڅنګ دریدل:**

د اقتصادي مشکلاتو د مخنیوي لپاره اسلامي شریعت د قوي اقتصاد څښتنانو ته توصیه کړی ده چې د ضعیفه اقتصاد لرونکو خلکو ترڅنګ ودریږي او هغوی ته د نجات لاس ورکړي، د کار او کسب په پیدا کولو کې ورسره همکاري وکړي او شتمنو خلکو ته یې ویلي دي چې خپل مسلمان ورور په سختیو کې تنها او یواځې مه پریږده، ځکه چې مسلمانان د یو جسد حیثیت لري او که چیرې د جسم یو غړی په درد شي ، نو د جسم ټول غړي ورسره په درد کې ملګرتیا کوي.

په حدیث شریف کې راځي. عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : ( مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى ) .منفق عليه

ژباړه: د حضرت نعمان بن شبیر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مثال د مؤمنانو په خپلمنځي محبت کې او په خپلمنځي تراحم کې او په خپلمنځۍ مهربانۍ په شان دجسد دی ، کله چې شکایت وکړي د جسم یوه عضوه ، نو ملګرتیا ورسره کوي ټول جسم په بې خوبۍ کې او په درد کې.
په یو بل حدیث شریف کې راځي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي:«لَيْسَ الْمُسْلِمُ الَّذِي يَشْبَعُ وَيَجُوعُ جَارُهُ » شعب الإيمان (١٢/ ٨٩)

ژباړه: نه دی هغه کامل مسلمان چې هغه ځان موړ کړي او وږی وي د هغه ګاونډي.

**۵-په اقتصادي مشکلاتو صبر کول:**

کورنۍ اقتصادي مشکل کومه نوې خبره نه ده، بلکې د کومې ورځې نه چې انسان  په دې خاکي کره باندې پښه ایښې ده ، د هماغې ورځې څخه دانسان سره  اقتصادي مشکلات ورسره یوځای راغلي دي.

د اقتصادي مشکلات د ژوند سره تړلي موضوع ده او آن چې د الله تعالی سپیڅلي پیغمبران هم ورڅخه مستثنی نه دي.

مسلمان لره په کار دي، چې اقتصادي او نور ټولو مشکلاتو په مقابل کې له صبر څخه کار واخلي او لکه د صندان په څیر ځان ورته کلک  کړي.

بله داچې دانسانانو اقتصادي حالت تل بدلیدونکي دي او انسان د تل لپاره په اقتصادي مشکلاتو کې بندي نه وي، بلکې کله وخت کې به اقتصادي مشکلات تر یو وخت پورې د انسان سره مل وي ، خو بیا  داسې شپې ور باندې راشي چې بیا د اقتصادي مشکلات ورته هیڅ په یاد نه وي او له حافظې څخه یې پاک شي.

که چیرې مسلمان په اقتصادي مشکلاتو باندې صبر وکړي او دکار او کسب ترڅنګ په خپل رزق او روزۍ باندې قانع وي ، الله تعالی به هم ورڅخه خوښ او خوشحاله وي او هم به د روحي سکون او ارامۍ حالات تجربه کوي چې صبر هم د هر ډول مشکلاتو  په مخ کې سپر دی.

ترد او دالله تعالی دا مبارک آیت دې تل په یاد وساتي چې فرمایي:( أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُمْ مَثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِنْ قَبْلِكُمْ مَسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّى يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَى نَصْرُ اللَّهِ أَلا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ).البقرة: (۲۱٤)

ترجمه:آیا ګمان کوئ تاسې (ای مؤمنانو!) چې ننه به وځئ تاسو جنت ته حال دا چې راغلي به نه وي په تاسې باندې په مثل (د سختیو) د هغو کسانو چې تېر شوي دي پخوا له تاسې نه چې رسیدلې وه دوی ته سختې (لکه فقر ) او رنځ او ګرځول شوي وو دوی (په سختیو سره) تر هغه پورې چې ویل به (هم) رسول او هم هغو کسانو چې ایمان یې را وړی وو سره له ده چې کله به وي نصرت د الله خبردار شئ واورئ چې بېشکه نصرت د الله نږدې دی (مؤمنانو ته)

**وأقول قولي هذا ، وأستغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين من كل ذنبٍ ، فاستغفروه ، إنه هو الغفور الرحيم.**